د استاد الفت

# ځينې نورې نشرشوي او نه نشر شوي مضامين

Ketabton.com

www.ulfat.de

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

# فهرست


سرلیک ... مخ

فلسفه ... 1

فیصله کرانه ده ... 2

د بیان آزادی ... 3

آمران ... 4

زورور ... 4

د رجب خان له قاموس څخه څو لغتونه ... 5

ډار ... 6

زمونږ آرزو ... 8

زړونه ... 10

د لوی خدای په پاک نامه او د ده په توفیق ... 11

واورئ او خبر شئ! ... 13

ملی حکومت ... 15

زمونږ هوښیاران ... 18

دا وایم – دا نه وایم ... 19

دوه جنازې ... 20

ناحقه دعوه ... 21

وګورئ! ... 23

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# فلسفه

(۱)

ځینې کارونه په ظاهره ډېر بد معلومېږي او په حقیقت کښې ډېر ښه وي. د خلقو په نظر کښې ظلم وي او چه فلسفه يې ولټوې سراسر رحم او دلسوزي وي. زمونږ سترګې او د فیلسوفانو سترګې ډېر فرق سره لري.

هغه چه مونږ ته بد ښکاره کېږي هغوی ورته ښه وائي، چه مونږ ئې ښه ګڼو دوی ئې بد بولی.

وائي چه انسان پخپل خیر و شره نه پوهېږي او ډېر ځله په ښو باندې د بدو ګمان کوي مګر یو فیلسوف نه غولېږي او ښه و بد پېژني.

مونږ ډېر ساده ګان یو او عمیق نظر نلرو.

مونږ ته کله یو کوتوال غل معلومېږي او له کوتوالیانو شخه وېرېږو.

علاقدار او حاکم زمونږ د غورسي او حق ساتلو دپاره راځي مګر مونږ ورنه سر ټکوو او وایو چه ظلم کوي.

اورېدلی مو دی چه یو سړی حاکم په ناحقه بندی کړ او هغه په زندان کښې قرآن شریف یاد کړ. یو بل ئې د دښمنانو په خوله په زندان کښې لس کاله وساته هغه د ډېر هنر او کمال خاوند شو او د محبس ډېر ښه صنایع د ده په لاس جوړېده.

حاکم صاحب ویل زه پوهېدم چه دی بې ګناه دی مګر که بندی شوی نه وای دښمنانو واژه او حیات ئې په خطر کښې و.

د ده دغه هنر او کمال هم د محبس برکت دی نو مونږ باید ډېر ظاهر بین نشو او د هر شي فلسفه ولټوو.

زمونږ ډېر خیر خواهان او حامیان مونږ ته ځانونه د ظالمانو په څېر ښئی او زمونږ د عقل او فکر امتحان اخلی.

که مونږ ظاهر بین او بد بین نه اوسو نو ماران او لړمان هم بېفایدې نه دي پیدا شوي. که زمونږ ګمانونه ښه وي او د وحدت او یووالی له فلسفې سره آشنا شو د غله او پیره دار فرق له مینځه ځي.

ketabton.com - The Digital Library

هوښياران وائي كه چنګيز او هلاكو نه واى پيدا شوي نن به دنيا په مونږ باندې ډېره تنګه وه او د قحط له لاسه به مو د ځان غوښې خوړې.
نو مونږ بايد خپل حقيقى خير خواهان او د بشريت خادمان هېر نكړو.

# فيصله ګرانه ده

(۲)

څو ورځې پس دلته راغلم يوه ويل له پخوا نه تيار شوى ئې او رنګ دې ډېر ښه دى.
بل په ډېر تعجب تپوس كاوه چه رنګ دې ولې خراب دى لكه چه ډېره رنځورى دې تېره كړې وى. زه هېڅ پوه نشوم چه كوم يو رښتيا وائي او د چا نظر صحيح دى.
زه په دوه ۆ كښې شوم او ځان مې نه پېژانده چه له پخوا نه ښه شوى يم كه خوار شوى يم؟
هر كله چه مونږ په دغسې ظاهرى او ساده مسئله كښې دومره اختلاف لرو نو په هغو مسايلو كښې به مو څه حال وي چه ډېر زيات عقل او فكر ته پكښې ضرورت وي او علمي تحقيق و تدقيق غواړي.
له نورو نه يم خبر ما نه خو اوس لوړى او لوډن ورك دى او داسې مقام ته نزدې شوى يم چه د تور او سپين فرق رانه وركېږى او وېرېږم چه بيخى فيلسوف نشم.
فلسفه هم له پوهېدلو څخه شروع كيږى او په نه پوهېدلو ختمېږى.
د دنيا ډېرو لوړو فيلسوفانو هم په آخر وخت كښې ويلى دي دومره پوهېږو چه په هېڅ نه پوهېږو.
زمونږ ځينې پوهان او هوښياران هم اوس په دغه مقام كښې قدم وهى. دوى ته اوس د ښو او بدو فرق ګران شويدى.
زمونږ ځينې كار داران هم اوس د مملكت په خير و شر نشي پوهېدلى دوى اوس همدغومره پوهېږى چه نه پوهېږو.
له دوى نه بايد په مهمو او غير مهمو مسايلو كښې كومه قطعى فيصله ونه غواړو ځكه چه دوى د شك او ترديد په مقام كښې بند دى او له تذبذب نه نشي وتلى.

ketabton.com - The Digital Library

# د بیان آزادي

## (۳)

باور کړئ چه دلته د خبر او بیان آزادي ډېره زیاته ده.

هغه څه چه مونږ ویلی شو په نورو ملکونو کښې ئې څوك نشی ویلی، دلته هر راز خبرې کېږی او هر څوك هر څه ویلی شی.

د دې خبرې د اثبات دپاره زه ډېر قوی دلایل لرم چه هېڅوك ئې تردید نشی کولی او هر څوك ئې مني.

لاړ شئ چېرته چه د دیموکراسۍ نغاره غږیږی او د بیان ازادی پکښې ډېره زیاته ده هلته به هم د خبرو آزادی دومره پیدا نکړی شی لکه چه دلته ئې ګورئ.

نن په ډېرو عصری او مدنی ممالکو کښې هلته چه دیموکراسی او آزادی خپل معراج ته رسېدلې ده هېڅوك دا جرئت نشی کولی چه د یوه لوی سړي په مخکښې مداحی وکړی او له تملق نه کار واخلی مګر دلته مداحان او متملقین دغه جرئت کولی شی او هېڅ تکلیف یا ضرر نه وینی.

اوس په دیموکراتو دولتو کښې څوك دا نشی ویلی چه له دیموکراسۍ نه دکتاتوری ښه ده مګر دلته دا بحثونه آزاد دي او د استبداد طرفداری هم ځینې خلق کولی شی.

په نورو ځایونو کښې ډېر لوی کسان خپله ملامتی په قام او ملت نشي اړولی مګر دلته د علاقدار میرزا هم دا ویلی شی چه ملت جاهل دی او ټوله ملامتی په دوی کښې ده.

نن په ډېرو مهذبو ملتونو کښې ډېر مقتدر اشخاص چا ته کنځلی نشی کولی او فحش ویل اخلاقاً ممنوع دی مګر دلته مونږ دغه بدې خبری ډېرې اورو او یو آمر خپل مامور ته پوچ ویلی شي.

د دروغو ویل چه بیخی منع دی له هر ځایه دلته ډېر ویل کېږی او دا یوازی مونږ یو چه خاین ته صادق، جاهل ته عالم، نا پوه ته افلاطون او ارسطو ویلی شو.

ketabton.com - The Digital Library

# آمران

## (۴)

مونږ به په تروه وچولی خبرې کوو، تاسی به په کړه غاړه د مجرمینو په څېر ولاړ اوسئ او بلی صاحب به وایاست.

مونږ به په هر کار کښې کار لرو نور به زمونږ په کارونو کښې د فکر کولو حق هم نلری. مونږ به هیڅ نه کوو مګر کارونه به ټول زمونږ په توجه کېږی.

ځلمیانو ته به په نفرت ګورو خو دوی به مونږ خپل حامیان ګڼي او په محبت به راته ګوری.

مونږ به په هېچا اعتماد نلرو او ټول خلق به په مونږ پوره اعتماد لری.

زمونږ خوف او زمونږ محبت به په آخره درجه په هر زړه کښې وی.

څومره چه له مرګ څخه وېرېږئ هغومره به له مونږ نه هم په خوف کښې اوسئ.

په هره اندازه چه ژوند او حیات محبوب ګڼئ مونږ به هم هغومره محبوبیت لرو.

هو! مونږ یوازی خپل رعب او هیبت ستاسو په نظر کښې نه غواړو باید شدید محبت هم له مونږ سره ولرئ.

یوازی محبت هم زمونږ په کار نه دی باید زمونږ له خوفه زړونه ورپیږی.

زمونږ په حضور کښې بې له عجز و نیازه هېڅ راز خدمت، صداقت او فعالیت نه قبلېږی که عاجزی او خادمانه اوضاع درسره وه هر راز خیانتونه معاف کېدلی شی.

پام کوه چه دلته پخپلو خدمتونو او صداقتونو مغرور یا بې پروا راشی.

هر کله چه راځې که دی هر څومره مهم کارونه کړی وی د یوه مقصر په حیث راځه او سر ټیټی راځه.

# زورور

## (۵)

د زورورو په مخکښې خبرې کول څه آسانه کار نه دی او هر څوك ئې نشی کولی. د دوی مزاجونه ډېر باریك وی.

کله ورباندې ډېره ښه خبره بده ولګېږی او سری جو جو کړی.

ketabton.com - The Digital Library

کله پری کنځلې ښه تاثیر وکړی او بده خبره ئې له یامه ښه راشی.
زه پوه نشوم او څه مې وویل زما خبره پرې ښه ونه لګېده ځکه راته په قار شو او وئې رټلم. که زه په نزاکتونو پوهېدلی، که ما ته د دربارونو اوضاع معلومه وای داسې به نه و شوی.
ما موقع ونه پېژندله او ډېره لویه بې ادبی رانه وشوه.
ده ماته وویل په وطن کښې څه حال دی؟ حاکمان او کارداران څنګه دي؟
زه خبر نه وم چه دې په رښتیا ویلو خوابدی کېږی او حقه وینا پرې بده لګېږی. مونږ خو په کلو او بانډو کښې لوی شوی یو، علم او پوهه نلرو، د لویو خلقو په خوی و بوی بلد نه یو او په هر ځای کښې هر چا ته رښتیا رښتیا وایو.
په مونږ باندې هېڅوك نه دی ملامت دا زمونږ خپله ګناه ده.
سړی باید پخپله ګناه اعتراف وکړی او خپله ملامتی ومنی.
زه دا منم چه مونږ نه پوهېږو او خبری مو لواړې دي.
دوی لواړې وریجې هضمولی شی مګر لواړې خبری نشی اورېدلی.
ماته وروسته چا وویل چه سړی د زورورو په مخکښې دغسې خبری نه کوی تا خو به له ځانه سره دومره فکر کړی و، چه ته له چا سره غږېږې؟ او څه وائې؟
هغه بل چه هلته ناست و لکه چه زما دوست و او زړه یې راباندې وسوزېده ځکه ئې وویل چه صاحب جهل او ناپوهی خو لوی عذر دی.
(از خورد ها لغزیدن از کلان ها بخشیدن)

# د رجب خان له قاموس څخه څو لغتونه

(۶)

مساوات: خاین او صادق، لایق او نالایق، پاکنفس او رشوت خور، کاریګر او بېکاره یو شان او برابر ګڼل.
دیموکراسی: د رشوت ازادی، د ظلم آزادی، د بېباکۍ آزادی.
اصول: هغه چه رواجول یې د مسکراتو او مخدراتو غوندې ممنوع وی.

ketabton.com - The Digital Library

انحصار: هغه تجارت چه هر څوك ئې نشی کولی لکه د حکومتونو او ماموریتونو خرخول.
حاکم: پخپل سر او خود مختار، هغه چه ظلم او استبداد ته اداره او انضباط وائي.
مامور: هغه چه دریشی کوی او کار نه کوی.
اقتصاد: له خوارنو او مسکینانو څخه اخستل او بډایانو ته ئې ورکول یعنې د زکوٰة عکس او ضد.
شورا: هغه چه هر څه ویلی شی او هېڅ نشی کولی.
خادم دین و دولت: چه د حاکم او نایب الحکومه خدمت ئې په ډېر اخلاص کړی وی.
د سترګو خاوند: چه هر څه ورته ووائې وائي په سترګو.

## ډار

## (۷)

پیری نه دی، روې نه ده، شیشکه نه ده، بلا نه ده مګر انسانان ډاروي. له څه شي نه؟ او له چا نه؟
له ښو ښو کارونو، له رحم او شفقت نه له عدل و احسانه، له خپلو ورونو او بنیادمانونه دی وائي: دغه خلق چه د ډېر پخوانی ظلم په ځنځیرونو کلك تړلي دي که هر چا خلاص کړه اسمان به ړنګ شی ځمکه به په بل مخ واوړی.
که د دوی لاسونه او پښې تړلی نه وی غلا به کوی، سړی به وژنی، لارې به وهی، داړې به غورځوي، وینې به تویوی.
که د دوی ژبې تړلی نه وی هغه څه به وائي چه تحمل ئې نشی کېدای.
که د دوی سترګی نه وی تړلی سپین سترګی به شی او هر څه ته به په نفرت ګوری.
نو باید دا د پخوا زمانی زبان بندی او چشم بندی وساتو. دوی باید همدغه شان په ځنځیرونو تړلی وی او دغه ډار چه د دوی په زړونو کښې موجود دی ډېر ټینګ وساتل شی.

ketabton.com - The Digital Library

که دغه طلسم مات شو او د خلقو ډار والوت سرېتوب ځی او بربادی راځی. تاسې باید د خپلو خزانو او جواهرو ساتلو ته دومره ډېره توجه ونکړی بلکه خپل ډار د خلقو په زړونو کښې له سرو او سپینو، له الماسو او لعلونو ډېر ټینګ وساتئ او خپلی ټولی پېری د همدغه شي د ساتلو دپاره مقررې کړئ.

زه چه دا خبرې اورم ډارېږم او دا نشم ویلی چه دغه ډار که له زړونو و اوزی په زړونو کښې به مینه او محبت پیدا شی، دغه عناد او نفرت به په صداقت او صمیمیت بدل شی، دغه مقید او ترلی قوتونه او استعدادونه به په کار ولوېږی دا وطن به آباد شی.

دا خبرې په زړونو کښې ګرزی خو له ډاره ئې څوك نشی ویلی.

خوف او ډار دلته دومره غلبه موندلی چه اوس مونږ له هر څه وېرېږو او ډاکتران راته د قاتلانو په رنګ کښې معلومېږی. یو وخت و، چه مونږ له ظلم و وحشت څخه نه وېرېدو او هر څه مو کول سترګی اېستل، تورو څاګانو کښې خلق اچول، قین او فانه، تېل داغ او ژوندی بنیادمان ونډ ونډ کول زمونږ کارو.

مونږ دغه شان بد بد کارونه کول او نه ډارېدو مګر نن یو ښه کار له ډاره نشو کولی او عدل و احسان هم مونږ ډاروی.

مونږ اوس له مثبت او منفی دواړو خواو وېرېږو او هر څه ډېر مهیب په نظر راځی. نه هغه ظلم او استبداد کولی شو چه پخوا مو کاوه نه هغه احسان او عدالت کولی شو چه دنیائې رانه په ټینګه غواړی.

زمونږ مثال داسی دی لکه چه ډېره سخته وچکالی وی او ټول خلق د یوه لوی قحط راتلو نه په وېره کښې وی، هر یو تصور کوي چه په وطن به داسی لوږه راشي چه ځوی به له پلاره بېزاره وي او مور به د ځوی پروا نلری، د همداغه ډار په وجه ټول خلق لوی او واړه له کورونو څخه د استسقاء او بارانه په طلب اوزی، مونځونه کوی دعاګانی کوی زاری کوی او له خدایه باران غواړی، پاك خدای په دوی مهربانه کېږی او د شپې له مخی یوه داسی توره ورېځ په آسمان کښې پیدا کېږی چه زورور بارانونه، شدید سیلابونه، رعد او برق، تندر او تالندې ورسره شته.

اوس ګورو چه توره شپه ده باران په ډېر شدت اوری، په آسمان کښې ډېر هیبتناك غړونه دی او له غرونو څخه سخت سیلابونه راروان دی، دلته هغه پخوانی ډار په یوه بل ډاربدلېږی هر یو غذر او زاری کوي چه باران ودرېږی او آسمان خپلی اوبه بېرته ونیسی. یو ګمان کوی چه زما کور به سیلاب یوسی، بل وائي په فصل او کښت به مې

ketabton.com - The Digital Library

زورورې خړې واورې او هر څه به له خاورو لاندې شي، څوك وائي رمه مې په غره كښې ده مېرې او پسونه به مې سيلاب يوسي.

د دغسې احتمالي او شخصي ضررونو په وجه هر يو غواړې چه يو عام رحمت بند شي او هغه څه چه په دعاګانو پې غوښتنه په دعاګانو ئې رد كړي.

دا تشبيه زما خوښه ده د ديموكراسۍ سيلاب همدغه شان مونږ وېروي او ځينې شخصي او احتمالي اضرار پكښې متصور دي مګر له عامې فايدې نه ئې هېڅ انكار نشي كېداې.

مونږ هماغه خلك يو چه له بارانه او له نه بارانه دواړو نه په وېره كښې يو او په هېڅ حال كښې ډار رانه نه ځي، پخوا له استبداده وېرېدو اوس له ديموكراسۍ څخه وېرېږو او ډېر بنه شي راته توره بلا معلومېږي.

# زمونږ آرزو

(۸)

مونږ آرزو لرو او د خپلې آرزو دپاره جد و جهد په ځان لازم ګڼو.

دا آرزو كومه ټيټه او شخصي آرزو نه ده. مونږ د كوم شخص شخصي دښمنان نه يو او نه شخصي علايق را باندې دومره اثر لري چه مونږ له خپلو عالي او اجتماعي آرزوګانو راواړوي. زمونږ كار له اساساتو او كلياتو سره دي او جزئياتو ته په جزئي نظر ګورو.

مونږ عمومي اصلاحات غواړو او په ټينګه ئې غواړو.

زمونږ ګران او محبوب پادشاه د ديموكراسۍ پالونكي او ساتونكى دى.

ديموكراسي مونږ ته د حق ويلو جرئت او د صحيح فكر كولو همت او طاقت راكوي.

مونږ له ديموكراسۍ نه همدغه شي غواړو.

مونږ ارزو نلرو چه ديموكراسي مونږ ته د كنځلو كولو او محض بدو ويلو موقع راكړي.

دا څيز زمونږ نه دى خوښ او نه ئې خوښوو.

ketabton.com - The Digital Library

زمونږ پروګرام دا دی چه په مهذبه لهجه، په سړه سینه، په عقل و منطق ښو ته ښه او بدو ته بد ووایو. بد کارونه، بد خویونه، بد فکرونه بد وګڼو او خپل لوستونکی په ښو او بدو پوه کړو، د خلقو پوهول مونږ د اساسی اصلاحاتو اساس ګڼو او زمونږ اساسی مرام همدغه دی.

دغه مرام مونږ په ډېر ښه صورت د اصلاحاتو په نیت تعقیبوو.

پدې لاره کښې که حقانه انتقاد او اعتراض په هر چا باندې راځی مونږ به ترې هېڅکله سترګی پټې نکړو ځکه چه سترګی پټول لویه غلا او لویه ګناه ده.

مونږ به اعتراضونه او انتقادونه وکړو مګر کنځلې به ونکړو.

مونږ د پته ملاتړلی ده چه د ښو او بدو تمیز وشی او دغه پوهه ډېره عامه او مکمله شی. دا کار مونږ د لوی خدای په توفیق کوو مګر بې ترتیبه ئې نه کوو او د محیط د هضمولو قوه په نظر کښې لرو.

مونږ د افراط طرفداران نه یو لکه چه د تفریط نه یو.

حقیقی او صحیح اعتدال پرېښودل مونږ ګناه بولو مګر د اعتدال په نامه هر څه نشو قبلولی.

مونږ پدې ټینګ یقین لرو چه پاك خدای د حقې لارې مل دی او څوك چه په ښه نیت یوه ښه مقصد ته په ښه لاره روان وی هېڅکله ئې د اس ځین نه کرېږی.

څوك چه ملی او اجتماعی ارزوګانې لری او له خپل وطن، خپل پادشاه، خپل قام سره رشتیانې مینه لری هغه باید کوښښ وکړی چه د خپلو ښو ارزوګانو تمثیل په ښه صورت وکړی او ښه شی چاته بد ونه ښئی.

هغه باید دا ونه وائې چه زما ارزو نیکه او مبارکه ده که نور هر څه تصور کوی کوی دې زما ورسره کار نشته.

زما په عقیده افهام او تفهیم د کامیابۍ مهم شرط دی او هر څوك چه اصلاحات غواړی باید د حسن تفاهم اصل هېر نکړی.

زه چا ته دا نه وایم چه (استغفر الله) د حق دپاره مجادله مه کوه ځکه چه پخپله دغه کار کوم او خپل فرض ئې ګڼم.

زه وایم: و جاد لهم بالتی هی احسن.

دا وه زما او زما د ځینو ملګرو ارزو چه زه ئې هغو کسانو ته ښکاره کوم چه ما ته په ښه نظر ګوری او په لاره کښې ما د مخه کوی.

ketabton.com - The Digital Library

# زړونه

(۹)

زه له زړونو سره لږ غوندې آشنا يم زه هلته يو څه ګورم او په معنوئې هم  پوهېږم. په زړونو کښې يو څه شته چه په ژبو کښې نشته. تاسې د هر چا په خبرو مه غولېږئ او زړونو ته لاره پيدا کړئ.

پوهېږئ چه زړونو ته لاره څنګه پيدا کېږي؟ او په دغه لاره څوك تلی شي؟ پدې لاره موټروونه نشي تلای، دآسونو او کچرو لاره نه ده، خره او غوائې پدې لاره نه درومي. د کبر او غرور خاوندان او زورور دا لار نشي موندلی.

د چا په سينه کښې چه زړه نه وي او په زړه کښې رحم و عاطفه نه وي له هغه نه دا لاره ورکېږي او بل طرف ته ځي.

د دې لاري خضر او رهبر له خلقو سره اخلاص، الفت او رښتياني محبت دی. ما د اخلاص او محبت له برکته زړونو ته لږ غوندې قرب حاصل کړ او هلته مې يو څه وليدل زه هغه ټول څه اوس نشم بيانولی خو همدغومره وايم دېرې ژبې شته چه د زورورو په ثنا او صفت نه مړېږي مګر يو زړه هم نشته چه زور او زو رو ر ئې خوښ وي.

دا خبره له ما نه يوسئ او د زور و قوت خاوندانو ته ووايأست:

زورور به هر څه پيدا کړی شي مګر په زړونو کښې قدر نشي پيدا کولی. هغه چه خلق ترېنه وېرېږي هېڅکله نه محبوب کېږي.

په يوه زړه کښې يو شي ځائېږي يا مينه يا وېره.

دا ستا خوښه ده چه هر څه هلته ړدی او هر څه درته ښه ښکاره کېږي.

هو! دا ستا خوښه ده چه بلا کېږي که لا لا کېږي؟

مګر زه له هغې تښتم او پدې بل پسې ځم.

دی راته ښه ښکاري او له هغې نه امان و پناه غواړم. که قوت روې شي خلق ورنه تښتي او که ليلی شي دېر مينان پيدا کوي.

ketabton.com - The Digital Library

# د لوی خدای په پاک نامه او د ده په توفیق

## (۱۰)

هغه کار ته ورانديږ کېږم چه کول ئې ډېر ګران دی او نه کول ئې له يوه داسی مهم او ضرور کار څخه ډډه کول دی چه د وطن او ملت خير خواهان او خدمتګاران له دغسې کارونو نه هېڅکله څنګ نشی کولی. که ووايم چه دا کار آسانه نه دی او هر څوك ئې نشی کړی مبالغه نه ده حقيقت دی.

مونږ په سلو کښې يو تن د سواد خاوند نلرو او په سلو با سوادو کښې ايله يو ئې دغه کار کولی شی. دلته همدغه يو مشکل نه دی سل نور هم ورسره دي.

په نورو ځايو کښې کار کول ګران دی او خبرې آسانه دی دلته خبرې کول له هر کار نه مشکل کار دی او څه ليکل يا څه ويل سل رنګه مسئوليتونه لری.

دلته يوازی همدومره ويل چه ښه کوئ او بد مه کوئ بې خطره او بې ضرره دی مګر په ښو او بدو باندې بحث کول او يو له بله ئې بېلول ډېر ګران کار دی.

دلته ښه او بد داسې ګډ شويدی چه اوس دغه تفريق ډېر زيات مهارت او ډېر لوی قوت غواړی. هغه اصول او مبادی چه نن په دنيا کښې مسلمات ګڼل کېږی او د دنيا پوهان ئې تقريباً په اتفاق منی او احترام ئې کوی زمونږ هوښياران پکښې سل خبرې لری او اورېدو ته ئې هم څوك حاضر نه دی منل خو لا څه کوې.

زمونږ د ځينو افرادو ننني وضعيت او حالت داسې معلومېږی لکه چه يوه سړی شپو خولۍ په سر کړی وی پتلون ئې اغوستی وی، څادر ئې په اوږو پروت وی او کوچيانۍ پڼې ئې په خپو کړی وی په بازار کښې ځانته نکتائی اخلی نو د دغه سړی مزاج پېژندل سړي ته ګران معلومېږی او څوك نشی پوهېدلی چه څه ورسره ووائې. دا چا ته نه ده معلومه چه دی د شپو په ځای پګړی ژر قبلوی او له پتلونه تېرېږی، که څادر او پڼې په کرتۍ او بوټونو بدلوی، يا دا ټول پرېږدی او کوم بل خالص او معلوم وضعيت اختياروی.

دغه شان ګډوډ او مخلوط اوضاع د افکارو او خيالاتو په دنيا کښې هم شته ځکه دلته خبرې ګرانې دی او راز راز خطرات ورسره شته.

ketabton.com - The Digital Library

زه يو مسلمان پښتون يم له ما نه به د خداى په فضل او توفيق هېڅكله ارادتاً داسې خبرى وانورئ چه خداى دي نه كا د دين او مذهب مخالفت پكښې وى.

زه به داسى څه ونه وايم چه زمونږ د ګران او محبوب پادشاه ادب او احترام پكښې نه وى ساتل شوى.

زه به داسى څه ونه ليكم چه د وطن او ملت ضرر پكښې متصور وى مګر سره له دې ټولو خبرو ښائي په ما باندې د ځينو له خوا اعتراضونه وشى او ځينى كسان راته بد بين غوندې شى ځكه چه حق ويل دومره ترخه وى چه د ادب په زور هم پكښې ډېر خوږوالى نه پيدا كېږى. له اجتماعى چارو سره علاقه لرل اورمرو شخصى او فردى علايق له ځينو كسانو سره خرابوى او بد زړونه بد وى.

دلته خلق په تاويلاتو كښې هم زښت ډېر مهارت لرى او سمه خبره هم ډېره ورانولى شى. ځينې كسان دا كار د ثواب دپاره كوى او په دغسى خبرو ځان د چا دوست او خير خواه كاندى. خبرې ډېرې دي څه به دې سر خوږوم، زه دغه ټول مشكلات په نظر كښې نيسم او ناخبره دا كار نه كوم او نه پكښې كوم هوس دخل لرى، زه پوهېږم چه يوې حقې مجادلى او مجاهدې ته را وړاندې كېږم او له لوى خدايه ځانته د ښه نيت او سم عمل توفيق غواړم.

زه يقين لرم چه دا هغه وخت او هغه ځاى نه دى چه د يوه اخبار خپرول ګټه ولرى، ما ته دا معلومه ده چه پدې كار كښې مادى تاوان هم شته، زه دېته ملتفت يم چه زما اخبار به ډېر لوستونكى پيدا نكړى شى او ډېر خريداران به نلرى مګر زه د ډېرې لږى معنوى فايدى دپاره هر څه قبلوم سره له دى او سره له ډېرو نورو خبرو د دې مبارك ايت (و لاتكتموا الشهاده) د تعميل دپاره حق ويلو او حق څرګندولو ته حاضرېږم.

نورې وېرې له زړه باسم او د پاك خداى وېره په زړه كښې ساتم.

د حق او حقيقت په مينه، د وطن او ملت د خدمت په ارزو، د ديموكراسۍ د حسن استقبال په نيت د خپل ګران او ديموكرات پادشاه د ارزوګانو په پيروى پدې كار شروع كوم. او ټينګ اميد لرم چه د وطن مصالح او منور طبقات به په ښه سترګه ورته وګورى.

د دى اخبار (اولس) مرام دا دى: ملى وحدت تقويه كول، د پوهى او تنوير خپرول، د ديموكراسۍ په اساس اجتماعى عدالت تامينول، د خوارو غريب غمخورى، د مظلومانو ملګرتيا او د حق پالنه اللهم اهد نا الصراط المستقيم.

ketabton.com - The Digital Library

# واورئ او خبر شئ!

## (۱۱)

زه دلته نه وم، بل چېرته وم، هلته خلق بل راز و، کورونه بل رازو، کارونه بل رازو هلته ما هغه څه ولیدل چه تاسو به نه وی لیدلی، هغه څه مې واورېدل چه تاسو به نه وی اورېدلی. په هغه ځای کښې چا پسونه نه حلالول مګر د انسانانو ونډې به ئې کله کله کوله.

زما څو ومه ورځ وه چه یو ښکلی ځلمی په رڼا ورځ د څو تنو په مخ کښې چا وواژه مګر دا د ظلم او وحشت واقعه دومره عادی او معمولی تېره شوه چه ستر حاکم خو پرې خبر هم نشو او حاکم خبر شو خو ورته را نغی.

د تحقیق دپاره ئې یو دوه تنه را ولېږل، په اولس کښې هم څو تنه پیدا شوه چه قاتل ئې وښوده او حقه شاهدی ئې پټه نکړه مګر د کلی خان او ملك د قاتل له پلاره پنځلس زره روپۍ واخستې او له وایمه وایم چه په حاکم، قاضی چا او چائې ووېشلې، څه دوی وخوړې او څه نورو، دوه زره پکښې د مړی پلار هم واخستې او ابرائې وکړه ځکه چه ټول په بله خواو او د ده له لاسه هېڅ نه کېدل.

مقتول له خپل پلاره د نورو زیات سکنی و ځکه هغوی خونبها زیاته واخستله.

په قاتل باندې یو کال قید وخوت مګر پلارئې په ما او په بل پسې ګرزېده چه په یوه او بل سپارښتن وکړی او دا بې ګناه بندی خلاص کړی.

دا واقعه خو مو واورېده اوس بله واورئ، زمونږ په کلی کښې داسی خبرې ډېرې دی.

هغه بله ورځ له ملا صاحب سره ناست وم یو سړی راغی چه په حاکم صاحب خط راکړه چه ما یا زما کډه ونه وهی اوبندیان مونکړی ځکه چه هغه ورځ ئې هم غوښتی وو او راته ډېر په قارو. ملا صاحب ورته اول د ځوی دعا وکړه او ټولو ویل چه ډېر ښه ځلمی و، خدای دې وبخښی.

سړی بیا ملا صاحب ته وویل چه د خدای په لحاظ یو خط را کړه چه مونږ ته څه ونه وائې او نور مو ونه رېروی. ده ویل ځوی مې سیند وریدی او پخپل اجل مړ دی مګر حاکم صاحب وائې چه چا وژلی دی تاسې قاتل پټوئ ځکه مو په وهلو قایلوم.

دا خبره ما غوندې ساده او نا بلده سړی ته عجیبه غوندې ښکاره شوه، ما ویل دا څنګه کېدای شی چه د یوه سړی ځوی څوك مړ کړی او دی حکومت ته اطلاع

ketabton.com - The Digital Library

ورنکړی، ماته د حاکم صاحب په عقل او تمیز خندا راتله خو وروسته یوه او بل وویل (غاړه دې د دوی بنده وی) چه په ربښتیا دا هلك فلانکی خیلو وژلی دی او په سیند کښې ئې غورځولی دی مګر پلار ئې پوهیږی چه څه مې له لاسه نه کیږی او غریب سړی یم خوشی ولی په چا باندې ځان وژنم او د کار دارانو د پیسو اخستلو دپاره عرضونه کوم.

داسې خبری ډیرې دی زه ټولی نه کوم او له مړونه تیریږم ژوندوته راځم.

یوه ورځ یو ځلمی راسره په لاره کښې ملګری شو چه ژبه ئې هم بندیدله او خبرې ئې په تکلیف کولې ما پوښتنه وکړه چه څه کار کوې ده د خپلی پریشانۍ قصه راته پدې ډول شروع کړه:

مونږ دیرش ځلویښت جریبه زمکه درلوده نور ټول رانه ظالمانو او خدای ناترسو واخیست اوس دوه جریبه راته پاته دی او هماغه پټی چه له مونږ نه نورو اخستی دی په دهقانۍ کړو.

پدې کښې هم مونږ خوك په قراره نه پریږدی فلانکی صاحب وائي چه ستاسو په تره مې شپږ زره روپۍ دی چه درې نیم زره ئې ګټه کیږی نو ژر کوئ ماته نه زره او پنځه سوه روپۍ راکړئ، مونږ دا روپۍ نشو ورکولی او دا درې میاشتې وشوې چه ورور مې حاکم صاحب بندی کړیدی او د دایکې پیسې رانه غواړی.

ما وویل کوم شرعی سند لری ویلی نه خو وائي چه عرفی سند راسره شته چه ستاسو تره پکښې ګوته لګولی ده، ما بیا تپوس وکړ چه تاسې پکښې څه وایاست ده ویل اوس خو مونږ چور منکر یو مګر که هماغه شپږ زره واخلی او سود را باندی حواله نکړی خپل پټی به خرڅ کړو او ځان به خلاص کړو مګر که په شپږو زرو قایل شو نورې هم رانه اخلی.

ما تعجب کاوه چه حاکم صاحب څنګه په حقوقی دعوه کښې بې له کوم شرعی سنده یو سړی درې میاشتی بندی کولی شی، هغه زما تعجب رفع نکړی شو بلکه نورئې هم زیات کړ او وئې ویل کله چه یو مشر سړی حکومت ته له مرکزه راځی او محبس ګوری حاکم صاحب زما ورور له محبس نه باسی او له یوه پیره دار سره ئې چیرته لرې لیږی او چه هغه ولاړ شی بیا ئې بیرته په زندان کښې واچوی.

تاسې پدې خبره پوره باور وکړئ چه ستاسې په زندانو کښې که دغه شان پټ او غیر رسمی د غلا بندیان شته چه په ناحقه بندیان شوي او له زندانه نشی وتلی داسې رسمی بندیان هم شته چه محکمی پرې حکم کړیدی مګر د ورځې په زندان کښې دی او شپې

ketabton.com - The Digital Library

په کورونو کښې کوی یا د ورځې کورته ځی او شپه په محبس کښې تېروی. که د رجب خان خبره رښتیا وی نو حاکم صاحب د یوه بې ګناه سړی د بندی کولو جبیره پدې باندې کړېده چه یو ګناه کارئې له بنده ازاد کړیدی او د افراط و تفریط له یو ځای کولو نه اعتدال غواړي.

# ملی حکومت

## (۱۲)

یو وخت مونږ د حکومت په معنا کښې دومره ډېر فکر نه و کړی. چا به چه د حکومت په باب کښې څه خبرې کولې خلقو به ګمان کاوه چه دی د مملکت پادشاه او سطان یادوی مګر اوس پوه یو چه کابینه او اجرائیه قوه د حکومت په نامه یادېږی او شاهی مقام له دغه نامه نه پورته ځای لری. اوس مونږ وپوهېدو چه په یوه مملکت کښې درې قوته وی (قضائیه – تقنینیه – اجرائیه) چه دا ټول د مملکت پادشاه ته اطاعت او انقیاد لری.

قضائیه یا تشریعیه قوه هغه ده چه قاضیان او مفتیان ئې د شریعت په اساس د پادشاه په امر لری او هېڅوك پکښې هېڅ نشی ویلی.

تقنینیه قوه د مملکت له پارلمان څخه عبارت دی چه د قوانینو د تصویب او تدوین حق لری او د ملی شورا او اعیان په نامه دلته یادېږی.

اجرائیه یا مجریه قوه له کابینې څخه عبارت دی چه حکومت هم ورته ویل کېږی او ملی شورا ته مسئولیت لری.

د حکومت له لفظ سره اوس یو بل لفظ هم یو ځای کوی او ملی حکومت ورته وائې.

ملی حکومت یعنې څه؟

ځینې ساده‌ګان ګمان کوی چه ملی حکومت هماغه دی چه د ملت له خپلو افرادو څخه جوړ شوی وی او ټول وزیران ئې د مملکت خپل سړې وي.

پوهان او هوښیاران دا تعریف نیمګړی بولی او وائي کوم حکومت چه د بل مملکت او بل ملت خلق پکښې شامل وی او پردی اشخاص پکښې وزارتونه او ریاستونه لری هغه خو بالکل اجنبی او غاصب حکومت دی چه د استعمار په نوم یادېږی. نو ملی

ketabton.com - The Digital Library

حکومت یوازی دا نه دی چه وزیران او رئیسان ئې پردی نه وی او خپل خلق وبلل شی بلکه علاوه پدې دا خبره هم پکښې شرط ده چه وزیران د ملت له افرادو د ملت د وکیلانو په اعتماد او خوښه انتخاب شوی وی او ملی شورا پرې خپل اعتماد ښکاره کړی.

نو که چېرې د یوه مملکت وزیر صاحبان د هغه مملکت خپل خلق وی مګر ملی شورا پرې بې اعتمادی ښکاره کړی ملی حکومت ورته نه ویل کېږی ځکه چه د شورا اعتماد شرط دی او د فقهاؤ په اصطلاح انتفاٴ د شرط انتفاٴ د مشروط دی.

د دی خبرې نوره څېړنه به نه کوو اوس به راشو دېته چه د ملت د وکیلانو اعتماد ولی دومره ضروری شرط ګڼل شویدی؟

که چیرې یو ملت یا د ملت نمایندګان په صدراعظم باندې عام و تام اعتماد ولری او هغه بیا پخپلو وزیرانو صاحبانو خپل پوره اعتماد څرګند کړی نو بیا دېته څه حاجت پاته کېږی چه د وزیرانو په باب کښې له وکیلانو څخه د اعتماد رایه واخستل شی او وکیلان هر وزیر وپېژنی.

په دغه صورت کښې باید هغه وزیران چه د ملت وکیلان ئې هېڅ نه پېژنې او ښه و بد ئې ورته هېڅ نه وی معلوم حکماً داسی وګڼل شی لکه چه د ملت اعتماد پرې موجود وی.

مګر حقیقت داسې نه دی او د دیموکراسۍ په اساس هغه حکومت چه په وزیرانو باندې ئې شورا بې اعتماده وی او خپله بې اعتمادی ښکاره هم کړی ملی حکومت نه بلل کېږی.

په ملی حکومت کښې د ملی شورا اعتماد د کابینې په اعضاٴو ډېر ضرور دی د دغه ضرورت په باب کښې دلته لږ غوندې بحث کوو او د دا خبره فلسفه ئې بیانوو:

که د یوه مملکت وزیران یوازی د یوه شخص په اعتماد مقرر شی ډېر امکان لری چه یو فکر که څه هم ډېر پوخ وی له سهوو او اشتباهاتو سره مخامخ شی او یو سړی وکړی شی چه د یوه شخص په نظر کښی ځان ښه ښکاره کړی او ښه نه وی مګر هغه وزیر چه د ملت اقناع او د ډېرو وکیلانو اعتماد حاصلول ضرور ګڼی مجبور دی چه ډېره موده ډېر ښه ښه کارونه وکړی او عام و خاص ئې ښه والی ومنی.

پدی صورت کښې یو سړی کوښښ کوی چه یو برجسته شخصیت پیدا کړی او د مهمو کارنامو او د خدمتونو په اثر عام محبوبیت او عامه خوشبینی حاصله کړی.

ketabton.com - The Digital Library

يو سړی دا کولی شي چه يو شخص، په نه څه وغولوی مګر د ډېرو کسانو غولول څه آسانه کار نه دی او ډېر لږ امکان لري.

بله خبره دا ده چه کابينه او وزيران د ديموکراسۍ په اساس د ملت وکيلانو او نمايندهګانو ته مسئول دي او وکيلان حق لري چه د مملکت په اجرااتو کښې غور او دقت وکړی او حکومت پخپل سر پرې نږدی نو که چيری وزيران په ابتداء کښې د وکيلانو اعتماد حاصل کړي او د هغه په حق کښې څه بد بينی او بدګمانی نه وی موجوده بلکه اکثريت د شورا ورته خوشبين وی نو د ملی شورا او کابينی تر مينځ هر ساعت دومره ډېر نظری او عملی اختلافات نه پيدا کېږی او وزيرانو ته يو ډول اطمينان حاصلېږی همدغه اطمينان د دوی جرئت او فعاليت زياتوی او دغه شان وزيران پخپلو کارونو کښې له ډېر تردد او تذبذب نه خلاص وی.

پدې صورت کښې يو ملت دا احساس او يقين کوی چه زه پخپله پخپل ځان حاکم يم او د اجرائيه قوی قوت زما خپل قوت دی او حکومت هېڅکله داسې يو کار نشي کولی چه زما خوښ نه وی دغه شان حکومت هم باور لري چه ملت زما تر شا ولاړ دی او ملی قوت راسره په هر کار کښې ملګری دی.

دغسې وزيران له ملت سره په تماس کښې وی او ارو مرو په ملت باندې خپل ځانونه پېژنی دا پېژندنه نه دوی د ملت له ټولو مشکلاتو، خواهشاتو او ضرورياتو څخه خبروی او له دغی پېژندګلوی څخه د حکومت او ملت تر مينځ يو ټينګ وحدت او محبت پيدا کېږی.

دغه راز وزيران د ملت له حاله نشی غافل کېدلی او ددی په ځای چه ځانونه په يوه شخص پوری مربوط وګڼی له ملت سره خپل تعلق او ارتباط ساتی.

په همدغه اساس په ملت کښې د کار سړی او رجال هم پيدا کېږی او اشخاص پدې فکر کښې لوېږی چه په ملت کښې مقام او منزلت ولری.

ملی قايدين او ليډران هم په يوه ملت کښې هله پيدا کېدای شی چه حکومت ملی وی او يو سړی د ملت په حسن نظر مهم مقام ونيولی شی.

دغسې اشخاص د ملت په نبض هم پوهېدلی شی او د ډېرو اجتماعی امراضو په علاج موفق کېږی. دوی بيا کولی شی چه په عمومی افکارو کښې ښه ښه تحولات پېښ کړی او نوې مفيدې مفکورې په خلقو باندې په آسانۍ ومنی.

ketabton.com - The Digital Library

# زمونږ هوښیاران

## (۱۳)

څنګه چه زمونږ هر څه په بل راز دی او هېڅ مو د نورو غوندې نه دی یعنی زمونږ ښارونه، زمونږ سرکونه، زمونږ شفاخانې، زمونږ مامورین له نورې دنیا څخه ډېر ډېر فرقونه لری دغه شان زمونږ هوښیاران هم د نورو ملکو له هوښیارانو سره هېڅ نه مقایسه کېږی.

د دوی عقل یو راز دی د هغوی بل راز. دوی یو شانته فکر کوی هغوی بل شانته دوی په یوه لار ځی هغوی په بله.

زمونږ هوښیاران وائي: یو سړی په لاره تېرېده یو مار ئې ولید چه د یخنۍ له لاسه بیخې مړ پړ پروت و او هېڅ حرکت ئې نشو کولی، د ده زړه وسوزېده او مار ئې پخپل لستوڼی کښې را واخیست او روان شو، څه ساعت وروسته چه مار تود شو او ساه پکښې وغړېده مار د همدغه سړی له غاړې تاو شو او د ده د بدبختۍ سبب وګرزېده.

له دې قصې نه دوی داسې نتیجه اخلی چه ډېر ضعیف او عاجزه انسانان هم لکه بې دمې ماران داسې دی چه باید خوك پرې زړه ونه سېزی او نه څه احسان ورسره وکړی ځکه چه ډېر ځله احسان او دلسوزی بد عاقبت او بده نتیجه لری.

دا هوښیاران مونږ ته احسان او دلسوزی همدغه شان تصویر وی او د مار و انسان په فرق نه قایلېږی.

زمونږ هوښیاران دا هم وائي:

عاقبت گرگ زاده گرگ شود گر چه با آدمی بزرگ شود

دوی ډېر انسانان ګرګ او ګرګ زاده معرفی کوی او نور بنیادمان ترېنه وېروی.

دوی وائي: سر جاهلان بر سر دار به.

ما له دوی څخه ډېر ډېر او په وارو وارو اورېدلی دی: بې ادب را هر کجا یابی بکوب.

دوی له مشفق استاذ نه هم د شاګردانو دپاره جور او ظلم غواړی ځکه وائي:

جور استاد به ز مهر پدر.

دوی غواړی له تعلیم نه د ماشومانو زړونه په وهلو تور کړی او بیا ئې د جهل او ناپوهۍ په ګناه په دار او سولۍ وخېژوی.

ketabton.com - The Digital Library

دا و زمونږ ځيني پوهان او هوښياران چه انسان ورته لکه مار او لېوه معلومېږی. نور نو ته ووايه چه ناپوهان او بې عقلان به څه غواړی او څه به کوی؟

د انسان اصلاح په پوهه انسانان کړی ناپوهان ئې په وهلو د انسان کړی

# دا وایم – دا نه وایم

## (۱۴)

دا وايم:

مونږ د کار سړی نلرو، علم او پوهه په مونږ کښې نشته، وړی او بربنډ يو، رنځوران مو نه جوړېږی. سرکونه وران او خراب دی.

دا نه وايم:

هغه وزير يا دغه رئيس د کار سړی نه دی، په وزرات معارف کښې سل نقصانونه موجود دی. وزارت اقتصاد، صحيه، فوايد عامه خپله وظيفه ښه نشی اجرا کولی، پخپلو کارونو کښې صحيح فکر نشی کولی، عملی فعاليتونه قناعت بخش نه دی، پيسې بېځايه لګېږی يا داسی نور ...

دا وايم:

ما پخپله د امتحان په ورځ د يوولسم صنف هلك وليد چه معلم ئې ډېر صفتونه کول او د هغه د امتحان پارچه ئې په ډېر افتخار را وړاندې کړه مګر متاسفانه هلته (اتفاق) (ايتفاق) او (اتحاد) (ايتحاد) ليکل شوی و.

دا هلك له دغې غلطې املاً سره له يوولسم صنف دولسم ته کامياب ولاړ او يوولس صنفونو، يوولس کالو، يوولس معلمانو دا غلطی اصلاح نشو کړای.

دا نه وايم:

چه نقص په معلم يا په تعليم کښې دی، په امتحانونو کښې څوك غور او دقت نه کوی، د مکتب مدير يا د معارف رئيس ښه کار نه دی کړی، مفتش خپله وظيفه ښه نه ده اجرا کړی.

دا وايم:

ketabton.com - The Digital Library

مونږ یو له بله ظلمونه کوو، یو د بل مال خورو، غلطې دعوې کوو او ورو بې هم، څوك چه عرض و داد وکړی نه خوشحالیږی او ډېر سرګردانی وینی، که چا د چا په پټی د چا په کاله ناحقه دعوه وکړه او ډېرو خلقو ته حقیقت معلوم و بیا هم د خپل حق اثبات ګران کار دی او څو کاله څو زره روپۍ د خپل مال د خپلولو دپاره په کار دی.

دا نه وایم:
چه ګرم څوك دی؟ نقص په چا کښې دی؟ ظلم څوك کوی؟ پردی مالونه چا خوړلي؟ عرضونه ولی یو ځای ته نه رسیږی او عارض ولی پخپل عرض پښېمانه کیږی.
دا وایم:
رشوت خواره شته، لحاظونه کیږی، سړي وژل کیږی، په زندانو کښې بېګناه بندیان هم شته.
دا نه وایم:
رشوت خور څوك دی؟ چا د چا لحاظ کړی؟ کوم سړی بل سړی وژلی دی؟ بېګناه بندی کوم یو دی؟ او چا بندی کړیدی؟
اوس خو به پوه شوی یاست چه زه څه وایم او څه نه وایم؟

## دوه جنازې

په یوه ورځ، په یوه ساعت کښې له یوې شفاخانې نه دوه جنازې را ووتلې. هغه یو د کم خونۍ په وجه او دا بل د فشار خون په سبب مړ شوی و.
د هغه جنازه څلورو تنو په اوږو را اخستې وه او د دی بل د جنازې په موټر پسې بې حسابه لوی او واړه موټرونه روان و.
هغه یوه وینه نه درلوده ځکه مړ شو د دی بل وینه زیاته شوې او تېزه شوې وه ځکه ئې ژوند ونشو کړای.
دوی دواړه مړه شوه خو مرګونه ئې یو راز نه و او مرضونه بېل وو.
یوه د نورو وینې هم څکلی وې او دېته محتاج وچه ډاکتران ئې له وجود څخه وینه وباسی. بل ته چا خپله وینه هم نه وه پرې ایښی او بې وینې و.
یو د افراط او بل د تفریط له لاسه مړ شو.
هغه چه فقیرو او په فقر الدم مړ شو د هغه له مرګه د باختر آژانس هیڅ خبر نشو.

ketabton.com - The Digital Library

د دی بل د مرګ اطلاع اخبارونو په ډېر تاثر او تاسف سره اخستی وه او د جرائدو پاڼې ئې په ماتم کښې توری شوی وې.
دا دواړه یو بادار او بل ئې نوکر و دوه کاله پخوا ښاغلی بادار رنځور شو ډاکتر د نوکر ډېره وینه د رنځور په وجود کښې انجکشن کړه د نوکر قوی او سالم وجود ډېر کمزوری شو خو بادار په لږ وخت کښې د ښو خوراکونو په زور او د عیاشی په وجه په فشار خون مبتلا شو چېرته چه دغه شان باداری او نوکری وی هلته همدغسې کېږی او د یوه په ځای دوه مری هوا! د یوه کمزوری کول او د بل قوی کول د دواړو په مړینه تمامېږی او د ظالم و مظلوم عاقبت همدغه شان وی.
دغه راز مرګونه مونږ طبعی مړینه بولو مګر په حقیقت کښې قتل او مقاتله ده.
دلته هم قاتل او مقتول شته مګر زمونږ پولیسان زمونږ حاکمان او زمونږ قاضیان پرې نشی پوهېدلی بلکه دوی له نورو نه دغه شان معنوی قتلونه ډېر کوی.
دلته دا عادت دی چه یو سړی که چا په ټوپك وویشت یا ئې په کټارو سوری سوری کړ د هغه پوښتنه کوی مګر که چا د چا ډوډی وخوړه او هغه له لوږی مړ شو نو دا مرګ قتل نه بولی او دغسې قاتل ته سزا نه ورکوی.
دغه شان مقتول ته څوك شهید هم نه وائي او نه پرې څوك تبې ترې.
په رښتیا چه مونږ ډېر ظاهر بین یو او حقایقو ته نه یو ملتفت.
زمونږ ډاکتران هم مونږ غوندی دی او پدې نه پوهېږی چه زمونږ اصلی مرض ظلم دی او حقیقی علاج عدالت دی. مونږ هېڅکله پدې نه جوړېږو چه د یوه وینه د بل په وجود کښې انجکشن کړو او په افراط و تفریط کښې خپل علاج ولټوو.

## ناحقه دعوه

دلته ناحقه دعوې او د ناحقې شاهدان زښت ډېر دي. زمونږ قاضیان ښه خلق دي هر رنګه دعوې اوری او هر چا چه هر څه وویل غوږ ورته ږدی.
هغه بله ورځ د یوه سړي غویي د بل په شوتله کښې ټنډ شو چه په متې ترچوړکی ورسېده د غوایي خاوند د شوتلی په خاوند دعوه وکړه او تاوان ئې غوښته ما ګمان کاوه چه دی به ئې پدی ګناه نیولی وی چه تا ولی خپله شوتله نه ساتله؟
ولې دې زما غویی په شوتله کښې دومره پرېښوده چه ټنډ شی دا ګمان بیخی بې اساسه نه وه ځکه چه دغه شان دعوې هم دلته ډېرې کېږی او خلق ئې کوی. مګر د غوایي خاوند له دېنه هم خپله دعوه معقوله کړې وه او حقوقی رنګ ئې ورکړی و. هغه

ketabton.com - The Digital Library

وویل د شوتلی خاوند له ما سره عناد درلود او زما د قلبی غوبی ئې په لوی لاس پخپله شوتله کښې خوشی کړ.

په دغسی چالاکۍ او مهارت د غوائي خاوند د ناحقی شاهدانو او د ډېرو واسطو له برکته خپل ځان د شوتلی له تاوانه هم خلاص کړ او د غوائي تاوان ئې هم پوره او کامل واخیست.

زه وېرېږم چه ځینې رشوت خواره چه د خلقو وینې ځکی او په پردو مالونو تنډېږی او بالاخره په فشار خون مری د هغوی وارثان هم د غوایي وال له قصې نه خبر نشی او د شوتلو په خاوندانو د خون دعوه ونکړی. زمونږ هوښیار او محتاط خلق له دغسې قصونه ډېر ښه خبر دی او ځانونه په ډېر احتیاط ساتی، که دوی د چا غوبی پخپل پتی کښې ووینی نو ډېر پام پرې کوی چه تنډ نشی او لوی تاوان وروانوړی.

داخلق پدې پوهېدلي دي چه د شوتلو پتې د غوایانو د خر د پاره دی او باید غوائي پرې ماړه شی مګر دومره نه چه له ډېر مړښته وپړسېږی او مړه شی.

که چیرې دهقانان بې پروائي وکړی او غوایان تر تنډېدو په شوتله کښې پرېږدی جاګیرداران او زمینداران ترینه د خپلو غویو تاوان اخلی او داسې ئې نه پرېږدی په رښتیا چه د دهقانانو وظیفه ډېره ګرانه ده چه باید غوایان نه وږی پرېږدی او نه ئې دومره ماړه کړی چه له ډېر مړښته مړه شی.

خبره له خبری ولاړېږی او یوه چه کومه بله را په یادېږی خبره په دعوو کښې ده، هغه شپه د مامور صاحب کور غلو وواهه او ډېر مال ئې ورځنې ویووړ مامور د کلی خلق ونیول چه تاسو ولی زما د کاله پیره نه کوله ولی مو زما مال نه ساته؟ یا غل او مال په لاس راکړی یا د مال تاوان له تاسو نه غواړمه.

د مامور صاحب ټول مال که څه هم د کلی د خلقو و او له دوی نه ئې اخستی و مګر ساتل ئې هم د کلی په خلقو لازم و چه د مامور صاحب په کور کښې به ئې ساتی.

د دې مال په وجه ډېر خلق دیره موده بندیان شوه او په اخره کښې ئې لکه د شوتلو خاوند تاوان هم ورکړ او دغه حقوقی دعوه جزائي هم شوه.

دلته دغه شان نا آشنا دعوې ډېرې زیاتې دی چه هر څوك ئې باورولی هم نشی.

وائي چه یوه سړی ټول عمر په دعوو کښې تېر کړی و او هر څنګه ناحقه دعوه به چه وه ده به وړله کله چه دی مړکېده نو ځوی ئې ورته ویل چه ابا ماته دې هم کومه دعوه پری ایښی ده او که نه؟ ده ډېر فکر وکړ چه هېڅ دعوه نشته او ځوی ته ئې څه نه دی پاته مګر هر کله چه دی د دعوو په پیدا کولو کښې استاذ و او له نه څه ئې ډېره غټه خبره

پیدا کوله خپل ځوی ته ئې وویل کله چا ما ستا مور ودوله ماما دې نهه میاشتې زما واده وځنډاوه، که ما نهه میاشتې د مخه واده کړی وای اوس به دې یو بل ورور هم ګرزېده ځوی ئې ډېر خوشحاله شو چه پلاره! دا خو د خون دعوه ده له دېنه به غټه دعوه بله چیرته وی؟

په رښتیا چه د ښو غوښو ښه ښوروا وی او له دغسې پلار نه همدغسی ځوی پاتی کیږي دغه راز دعوې دلته له پلرونو نه زامنو ته پاته شی او د حاکمانو ماموړانو روزی خدای په همدغسې دعوو کښې ایښی ده.

# وګوری!

ښه وګورئ! سترګې مه پټوی خدای ته ورتک دی د قیامت ورځ راتلونکی ده سترګې پټول حق نه ویل د حق په ځای کښې چوپ کښېناستل ډېره لویه ګناه ده.

وګورئ او په ځیر ځیر وګورئ که ستاسې سترګې خلاصې شوې که تاسی هر څه ولیده که ستاسې بینائې ثابته شوه ډېره لویه ګټه به وکړئ.

ستاسې ډېرې بدبختی په سترګو غړولو لیدلو او کتلو ورکېږی.

تاسې د سترګو په حکمت ښه نه یاست پوه شوی او له خپلو سترګو نه مو پوره کار نه دی اخستی تاسې یو بل ته ګورئ مګر څه نه وینئ او څه نشئ لیدلی.

تاسې به وایاست چه مونږ شپه ورځ پېژنو، تور او سپین بېلوو د انسان او حیوان فرق کوو که مونږ څه نه لیدلی نو هر ګوره به د چا له موټر یا بګی لاندې شوی وو له ګرنګونو به لوېدلی وو او بې لارې به تلو.

زه وایم اوس هم ډېر خلق په کږه لاره روان دي ډېر خلق په کندو کښې لوېږی او په ځان نه پوهېږی ډېر کسان د انسان او حیوان فرق نه کوي او خاین و صادق نه پېژني، دغه شان سترګې چه مونږ لرو نور حیوانات ئې هم لری د موټرو له مخی اوښان هم ځانونه په څنګوی په پاڼونو او کمرو باندې نه ورځی واښه او اوبه وینی د انسان لیده او کاته باید بل راز وی د بني آدم نظر باید سر سری او سطحی نه وي.

راځئ چه مونږ او تاسې د خپلو نظر امتحان وکړو او خپله بینائې معلومه کړو.

# پای

ketabton.com - The Digital Library

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*